# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانيستي داوطلبي

**پروژه:** د افغانستان بانک رياست د مېلمستون، د پېښتنی بانک تعمير، څلورمه ښاري، شپږمه ښاري او پخلنځي لپاره د اوبلنو ګازو چمتو او تدارک کول

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1400-1/NCB/G12**

۱. د افغانستان بانک رياست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شويو وجوهو يوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400-1/NCB/G12** داخلي پرانيستي داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمريت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرايطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل سر بند آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **يو کال** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستي ميتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې يادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستي ده.

۵. په شرايطو برابر ټول ليوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (hezbullah.niazy@dab.gov.af) برېښناليک او يا هغې پتې څخه چې لاندې يې يادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

۶. **آفرونه بايد لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1401/01/10 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسيدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه بايد د آفر د تضمين د لانديني مبلغ سره يوځای وسپارل شي.

آفر تضمين: بانکي تضمين

۸. **د آفر د تضمين مبلغ 72,745**/دوه اويا زره اوه سوه او پنځه څلويښت **افغانی**

د آفر د تضمين: بانکي تضمين د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. يعني د آفر د سپارلو د نېټې 1401/01/10 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې يا د تمديد شوې مودې تر پای پورې، په

هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵,۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین\ نغدي پیسی) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

2- داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لېترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **تولیز ارزښت** (:*909,304* – نه سوه او نه زره او دری سوه او څلور افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمی د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af